میٹھے بول

رساله نمبر: 82

# خوږې خبرې


شيخ طريقت، امير اهلسنت، باني دعوتِ اسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**محمد الياس عطّار قادري رضوي**

دامت برکاتهم العاليه



پښتو ترجمه:

مجلِس تراجِم

(دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

## کتاب لوستلو دُعا

دیني کتاب یا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنۡ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ څه چه لولئ هغه به مو یاد پاتې کیږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَیۡنَا حِکۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَیۡنَا رَحۡمَتَكَ یَا ذَا الۡجَلَالِ وَالۡاِکۡرَام

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسیره [یعني بیرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج ص۰، دار الفکر بیروت)

طالب غم
مدینه بقیع
ومغفرت

(اول او آخر کښې یو یو ځل دُرود شریف اولولئ)

د رسالے نوم: **خوړي خبرې**

اول ځل: ---------------

شمیر: .................

ناشِر: **مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِیۡنه، عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه، بابُ الۡمدینه کراچئ.**

## مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

**کتاب اخستونکی توجّه اوکړئ**

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي یا پانړې کمي وي یا په بائنډِنګ کښې مخکښې روسته لګیدلي وي نو مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِیۡنَہ ته رجوع اوکړئ.

# خوږې خبرې

د شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة د بيان دا رِساله ”میٹھے بول“ په اردو ژبه کښې ليکلې شوې ده.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلس تَراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلِسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي

**برائے رابطہ:**

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران
پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان
**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213
**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# خوږې خبرې[1]

غالِباً چه شیطان به مو د دې رسالے پوره لوستلو
ته نه پرېږدي خو تاسو د هغه وار ناکامه کړئ.

## په قبر کښې د سزا یو سبب

په "اَلْقَولُ الْبَدِيع" کښې نقل دي: حضرتِ سَيِّدُنا ابُوبکر شِبلي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ما خپل مرحوم ګاونډي په خوب کښې اولیدو او تپوس مې ترې اوکړو، مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ یعني الله تعالیٰ ستا سره څه معامله اوکړه؟ هغه اُووئیل چه د ډېرو سختو سره مخامخ شوم، د مُنکَر نَکِیر د سوالونو جوابونه مې هُم نه شو ورکولے، ما په زړه کښې خیال اوکړو چه شاید زما خاتِمه په اِیمان نه ده شوې! په دې کښې آواز راغے: "په دُنیا کښې د ژبې د غیر ضروري اِستِعمال په وجه تا ته دا سزا درکوله شي." بیا د عذاب ملائکے [یعني فرښتے] زما طرف ته راررواني شوې. په دې کښې یو صاحِب چه د حُسن و جمال [یعني ښائست] نمونه او خوشبودار خوشبودار وو زما او د عذاب تر مینځه شو او هغوئي ما ته د مُنکَر نَکِیر

[1] دا بیان امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د تبلیغ قرآن و سُنَّت د عالمګیر غیر سیاسی تحریک دعوت اسلامی د سنّتو ډکه اجتماع کښې په (رَبِيعُ الْاَوَّل شریف ۱٤۳۰ھ 2009ء) کښې په باب الـمدینه کراچۍ کښې فرمائیلے وو. د ضروري بدلون سره د لِیك په صُورت کښې حاضر دې (مجلس مکتبة المَدِينه)

د سوالونو جوابونه رایاد کړل او ما هُم هغسې جوابونه ورکړل، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما نه عذاب لرې شو. ما هغه بزرګ ته عرض اوکړو: الله تعالیٰ دِ په تاسو رحم اوکړي، تاسو څوک ئې؟ هغوئي اُوفرمائيل: زه ستا په کثرت سره دُرُود شریف وئیلو سره پیدا شوے یم او زه د هر مُصیبت په وخت کښې ستا د اِمداد د پاره مامُور [یعني مُقرر] کړے شوے یم.

(اَلْقَوْلُ الْبَدِیع ص۲۶۰ موسسة الرِّیان بیروت)

آپ کا نامِ نامی اے صلِّ علیٰ — ہر جگہ ہر مصیبت میں کام آ گیا

ستاسو مبارك نوم مې اے صَلِّ عَلٰی
هر ځائے او هر مُصیبت کښې پکار راغلو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سُبۡحٰنَ الله! چه د درود شریف د کثرت په وجه په قبر کښې فرښته د مدد د پاره راتلے شي نو د ټولو فرښتو هُم آقا مکِّی مَدَنی مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولے کرم نه شي کولے! چا بالکل صحیح فریاد کړے دے.

میں گور اندھیری میں گھبراؤں گا تنہا — امداد مری کرنے آجانا مرے آقا
روشن مری تُربت کو لِلّٰہ شہا کرنا — جب نَزع کا وقت آئے دیدار عطا کرنا

په قبر کښې یواځې به ویریږمه ډیر زیات — امداد ته زما راشئ زما خوږه آقا
روښانه زما قبر د الله د پاره کړئ — چه وخت د ځنکدن شي دِیدار راعطا کړئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د خُراسان يو بزرګ رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ته په خوب کښې حُکم اوشو چه: "تاتاري قوم ته د اسلام دعوت پيش کړه" هغه وخت د هلاکو خان د ځوئ تګودار خان بادشاهي وه. هغه بزرګ رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ سفر اوکړو او د تګودار خان خوا ته ئې تشريف يوړو. د سُنَّتو نمونه ګيرې والا مسلمان مُبَلِّغ ئې چه اوليدو نو تګودار خان وريورې ټوقه اوکړه او ورته ئې اُووئيل چه "اے سړيه! دا خو را ته اُووايه چه ستا د ګيرې ويښته ښه دي که زما د سپي لکئ؟" خبره اګر چه غُصَّه راوستونکې وه خو هغه يو پوهه مُبَلِّغ وو، لِهٰذا په ډيره زياته نرمئ ئې اُوفرمائيل چه "زه هُم د خپل خالِق او مالِك الله تعالیٰ سپے يم، که د جان نثارئ او وفادارئ په ذريعه د هغه په خوشحاله کولو کښې کامياب شوم نو زه به ښه يم ګني ستاسو د سپي لکئ زما نه ښه ده که هغه ستا منونکے وي." ولے چه هغه يو باعمله مُبَلِّغ وو، د غِيبت، چُغلئ، عيب جوئي [يعني په خلقو کښې عيبونه لټولو] او بد کلامئ او فُضُولو خبرو وغيره نه به لرې اوسيدو او هميشه به د الله تعالیٰ په ذِکر کښې مصروف اوسيدو لِهٰذا د هغه د خُلے نه وتلي **خوږې خبرې** د تګودار خان زړه ته کُوزې شوې ځکه چه کله هغه د خپلې "ترخے خبرې" په جواب کښې د هغه باعمله مُبَلِّغ له طرفه "خوږ او خوشبوداره" جواب واوريدو نو ځان سره اوشرميدو او په نرمئ ئې اُووئيل: تاسو (رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ) زما ميلمه ئې، تاسو به زما سره اوسيږئ. چنانچه هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د هغه سره اوسيدل اختيار کړل. تګودار خان به هره شپه د هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په خِدمت کښې حاضريدو او هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ به

ورته د ډېرې زياتې مهربانۍ په انداز کښې **د نيکۍ دعوت** ورانديې کولو. د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د مسلسل کوشش په نتيجه کښې د تګودار خان په زړه کښې **مَدَنـي اِنقِلاب** راپورته شو! هُم هغه تګودار خان چه پرون ورځې پورې د دُنيا نه د اِسلام نوم ختمولو پسے وو، نن د اسلام عاشق جوړ شوے وو او د هغه باعمله مُبَلِّغ په لاسو تګودار خان د خپل پوره تاتاري قوم سره مسلمان شو. د هغه اسلامي نوم "احمد" کيښودے شو. تاريخ ګواه دے چه د يو باعمله مُبَلِّغ د **خوږې خبرې** په بَرَکت د وَسطِ ايشيا ظالِم تاتاري حکومت په اسلامي حکومت کښې بدل شو. **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## خــوږه ژبه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! مُبَلِّغ داسې وي! که د تګودار خان په ترخه خبره هغه بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په غُصَّه کښې راغلے وے نو هيڅ کله به هُم داسې مَدَنـي نتيجه نه وے راوتلے. لِهٰذا که څوك هر څومره غُصّه راولي خو مونږ ته خپله **ژبه** په واك [يعني کنټرول] کښې ساتل پکار دي ځکه چه دا بے قابو شي نو کله کله جوړ شوے کار هُم وران کړي. دا صرف **خوږه ژبه** وه چه د دې خوږوالي د تګودار خان په شان ځنګلي، ظالِم او د ځناورو نه هُم بدتر انسان د انسانِيَّت اوچت مَنصَب ته اورسوو.

ہے فلاح وکامرانی نرمی وآسانی میں

ہر بنا کام بگڑ جاتا ہے نادانی میں

ده فلاح و کامـراني په نرمۍ او آسانۍ کښې

هر جوړ شوے کار، ورانيږي په نادانۍ کښې

## د غوښې وړه شان بوټۍ

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! ژبه اګر چه په ظاهره د غوښې يوه وړه شان بوټۍ ده خو دا د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی يو عظيمُ الشَّان نعمت دے. د دې نِعمت د قدر نه خو شايد چه چاړا بنه خبر وي. د ژبې صحيح استعمال په جَنَّت کښې داخلول او غلط استعمال دوزخ ته غوزارول کولے شي. که يو بد ترين کافر هُم د زړه په صِدق په ژبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله (صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اُووائي نو د ڪُفر او شِرك تولې ګندګۍ نه پاك شي او د هغه د ژبې نه وتلـې دا ګلِمهٔ طَيِّبه هغه د تيرو ټولو ګناهونو نه پاك کړي. د دې پاکې ګلِمے په بَرَکت هغه د ګناهونو نه داسې پاك او صفا شي لکه په کومه ورځ چه د موره پيدا شوے وو. دا عظيم انقلاب د زړه د صِدق سره په ژبه د ګلِمه طَيِّبَه ادا کولو سره راځي.

## په هره خبره د يو کال د عِبادت ثواب

کاش چه! مونږه هُم د خپلې ژبې صحيح استعمال زده کړو. که څوك د الله و رَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا مطابق ژبه اُوخوزوي نو په

جَنَّت کښې به ورله کور تيار کړے شي. په دې ژبه که مونږه د قُرآنِ مجيد تِلاوت اوکړو، ذِكْرُ الله عَزَّوَجَلَّ اوکړو، دُرُود و سلام اُوولئيو. ډير ډير د **نيکئ دعوت** ورکړو نو اِنْ شَآءَالله تعالیٰ زمونږه خو به مزے شي. په **مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب** کښې دي چه حضرتِ سَيِّدُنا مُوسٰی کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا ربِّ کريم عَزَّوَجَلَّ! ځوك چه خپل ورور را اُوبلي او هغه ته د نيکئ حُکم اوکړي او د بدو نه ئې منع کړي. د هغه کس جَزا [يعني ثواب] به څه وي. **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ارشاد اُوفرمائيلو: زه د هغه د هرې خبرې په بدله کښې د يو يو کال د عِبادت ثواب ليکم او هغه ته د جَهَنّم سزا ورکولو کښې ما ته حيا راځي. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص٤٨ دار الكتب العلمية بيروت)

## د عاشقانِ رَسُول د خوږو خبرو بَرَکتونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د نيکئ د خبرې ښودلو، د ګناه نه د نفرت ورکولو او د دې کارونو د پاره په چا باندې د **اِنفرادي کوشش** کولو ثواب ګټلو د پاره دا ضروري نه دي چه چا ته د نيکئ دعوت ورکړئ او هغه پرې عمل اوکړي نو هله به ثواب حاصليږي بلکه که هغه ئې اُو نه مني نو بيا به هُم اِنْ شَآءَالله تعالیٰ [د نيکئ دعوت ورکوونکي ته] ثواب حاصليږي او که ستاسو د **اِنفرادي کوشش** په نتيجه کښې چا د ګُناهونو نه توبه اوکړه او په سُنَّتو عمل کوونکے جوړ شو نو بيا خو به اِنْ شَآءَالله تعالیٰ ستاسو هُم مزے شي. راځئ چه په دې باره کښې د اِنفرادي کوشش يو مَدَني سپرلے واورو چنانچه د قُصور (پنجاب، پاکستان) د يو ځلمي اسلامي

ورور لِيك بِالتَّصَرُّف وړاندې كووم: زه په هغه ورځو كښې د ميټرك طالِبِ عِلم ووم، د بد صُحبت په وجه مې ژوند په ګناهونو كښې تيريدو، مِزاج مې ډېر غُصَّه ناك وو او د دومره حده پورې بدتميزه ووم چه پلار څه چه د نِيا او نِيكه په مخكښې به مې هُم ژبه د قينچۍ په شان چليدله. يوه ورځ د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** يوه مَدَني قَافِله زمونږه د کلي جُمات ته راغله، د **الله** (تعالیٰ) کړه داسې اوشو چه زه هغوئی سره ملاقات كولو د پاره ورغلم، يو عِمامے والا اسلامي ورور په ما **اِنفرادي كوشش** اوكړو او ما ته ئې په **درس** كښې د شريك كيدو دعوت راكړو، زه هغوئي سره كښيناستم، هغوئي د درس نه پس ما ته اووئيل چه يو څو ورځې پس په صحرائے مدينه مدينةُ الاولياء مُلتان شريف كښې د دعوتِ اسلامي **د درې ورځو بينُ الاقوامي د سُنَّتو ډكه اجتماع** كيږي تاسو هُم پكښې شركت اوكړئ. د هغوئي درس په ما ډېر ښه اثر كړے وو څكه ما انكار اونكړے شو، تر دے چه زه (د مُلتان) په اجتماع كښې حاضر شوم، د هغه ځائے وَداني او بَرَكتونه مې چه اوليدل نو زه حيران پاتې شوم، هلته كيدو والا آخري بيان "**د سندرو او سازونو تباهياني**" مې چه واوريدو نو بدن مې په رپيدو شو او د سترګو نه مې اوښكې رواني شوې، ما د ګناهونو نه توبه اوكړه او د **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول كښې شامِل شوم، زما په مَدَني ماحول كښې د شامليدو په وجه زما د كور كسانو د سكون ساه واخسته، زما مشر ورور چه د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول دا بَرَكت اوليدو چه زما په شان وران

کاري ځلمي کښې هُم مَدَني اِنقِلاب راغے نو ډير مُتاثِره شو او هغه هُم کِپره مبارکه پريښودله او د عِمامے شريفې تاج ئې هُم په سر کړو، زما صرف يوه خور ده. هغے هُم مَدَني بورقه په سر کړه او د کور هر يو کس په سلسلهٔ عاليه **قادِريَّه رَضَوِيَّه** کښې داخل شو او د غوثُ الاعظم پيرانِ پير دَستگير رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه مُرِيدان جوړ شو. او په ما باندې **الله تعالیٰ** داسې کرم اوکړو چه ما د قُرآنِ مجيد **حِفظ** کولو سعادت حاصل کړو او په **درسِ نظامي** (يعني عالِم کورس) کښې مې داخله واخسته او د دې بيان ورکولو وخت کښې درجهٔ ثالِثه يعني دريمې درجے ته رسيدلے يم. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني کارونو علاقائي مَدَني قافِله ذِمَّه دار هُم يم او نِيَّت مې کړے دے چه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** ھ کښې به په يوه **مخه د دولسو مياشتو د پاره مَدَني قافِله** کښې په سفر روانيږم.

دل پہ گر زَنگ ہو، سارا گھر تنگ ہو
ہو گا سب کا بھلا قافلے میں چلو
ایسا فیضان ہو، حِفظ قرآن ہو
کر کے ہمت ذرا قافلے میں چلو

که په زړه دِ وي زَنګ، درنه ټول کور وي تنګ
اُو به شي د ټولو خير قافِلو کښې لاړ شئ

داسې اُو به شي فيضان، حِفظ به شي درته قُرآن
هِمّت اوکړئ لږ ډير، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بخښنې زېرے

په دې ژبه د قُرآنِ پاك تِلاوت اوكړئ او د بېشميره ثوابونو خزانه حاصله كړئ. چنانچه په ”رُوحُ الْبيان“ كښې دا حديثِ قُدسي دے: چا چه يو ځل بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ د اَلۡحَمۡدُ سره يو ځائے (يعني بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ د سُورة د ختميدو پورې) اولوستل نو ته ګواه شه چه ما هغه اُوبخښلو، د هغه ټولې نيكئ مې قبولې كړې او د هغه ګُناهونه مې مُعاف كړل او د هغه ژبه به هيڅ كله نه سيزم او هغه ته به د قَبْر د عذاب، د اور د عذاب، د قيامت د عذاب او د غټې ويرې نه خلاصے وركووم. (رُوحُ البَيان، ج۱، ص۹، داراحياء التراث العربى بيروت) د يو ځائے كولو نوره واضحه طريقه واورئ: بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡ. مِلۡ. حَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ..... (د سورة د آخرې پورې)

## د حُورو حاصلولو عمل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! لږه شان ژبه اُوخوزوئ، اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰهَ الۡعَظِيۡم اُووائے او د جَنَّت حُورې حاصلې كړئ چنانچه ”رَوۡضُ الرَّيَاحِين“ كښې دي چه يو بزرګ رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيۡه خلويښتو كالو پورې د اللّٰه تعالٰى عِبادت اوكړو، يو ځل ئې دا دُعا اوكړه: يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ته به چه په خپل رَحمت ما ته په جَنَّت كښې څه را عطا كوے د هغے يو څرك په دُنيا كښې هُم را اوښائے. دُعا لا جاري وه چه ناڅاپه محراب اوشليدو او د هغے نه يوه حَسينه او جَمِيله حُوره را اُووتله او هغے اُووئيل چه تا ته به په جَنَّت

کښي زما په شان سل (۱۰۰) حُورې درکولے کيږي چه د هرې يوے به سل سل خِدمتګارې وي او د هرې خِدمتګارې به سل سل وِينزې وي او په هره وِينزه به سل سل ناظِماني (يعني اِنتِظام کوونکي) وي. دا ئي چه واوريدل نو هغه بزرګ رَحۡمَۃُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه ډير زيات خوشحاله شو او تپوس ئي اوکړو چه آيا چا ته به په جَنَّت کښي زما نه زياته [برخه] هُم نصيب کيږي؟ جواب ورکړے شو چه: دومره خو به هر هغه عام جَنّتي ته هُم ورکولے کيږي څوك چه سحر او مابنام اَسۡتَغۡفِرُ اللهَ الۡعَظِيۡمَ وائي.

(رَوۡضُ الرَّیاحِین ص۵۵ دار الکتب العلمیۃ بیروت)

## ديوانه شئ

په دې ژبه هر وخت د الله تعالٰی ذِکُر کوئ او د ثواب خزانے اوګټئ، د خوږ مکِّی مَدَنی آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په داسې کثرت ذِکۡرُ الله کوئ چه خلق درته ديوانه وئيل شروع کړي.

(اَلۡمُسۡتَدۡرَك لِلۡحَاکم ج۲، ص۱۷۳ حدیث۱۸۸۲ دار المعرفۃ بیروت)

په يو بل حديثِ پاك کښي فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: د الله تعالٰی دومره په کثرت سره ذِکر کوئ چه مُنافِقِين تاسو ته رياکار وئيل شروع کړي. (اَلۡمُعۡجَمُ الۡکَبِیۡر للطبرانی ج۱۲، ص۱۳۱ حدیث۱۲۷۸۲ دار احیاء التراث العربی بیروت)

## وَنه نالووم

زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ ته د ژبې خومره ښکلے استعمال ښودلے دے، تاسو ئي هُم واورئ او

خوشحاله شئ چنانچه د ''اِبنِ ماجه'' په رِوايت كښې دي چه: (يو ځل) د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځائے ته تشريف وړلو، حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ئې اوليدلو چه يو بُوټے نالَوي، تپوس ئې ترې اوكړو څه كوے؟ عرض ئې اوكړو: وَنه نالَووم. خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: زه د بهترې وَنې نالولو طريقه در اوښايم! سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ لوستلو سره د هرې كَلِمے په بدله كښې په جَنَّت كښې يوه وَنه لګي. (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه، ج٤، ص٢٥٢ حديث٣٨٠٧)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې حديثِ پاك كښې څلور كَلِمے ارشاد فرمائيلے شوې دي: ﴿١﴾ سُبْحٰنَ اللهِ ﴿٢﴾ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ﴿٣﴾ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ﴿٤﴾ اَللهُ اَكْبَرُ دا څلور واړه كَلِمات اولولئ نو په جَنَّت كښې به څلور وَنې نالي كړے شي او كه لږ ئې لَوَلئ نو لږې. مَثَلًا كه څوك سُبْحٰنَ الله اُووائي نو يوه وَنه، د دې كَلِماتو په لوستلو مسلسل ژبه خوزوئ او په جَنَّت كښې [ځان له] ډيرې ډيرې وَنې نالَوئ.

عُمر را ضائع مَکُن در گفتگو    ذِکر اُو کُن ذِکر اُو کُن ذِکر اُو

(يعني فالتو خبرو كښې عُمر مه ضائع كوئ ذِكْرُ الله كوئ ذِكْرُ الله كوئ ذِكْرُ الله كوئ)

## د اتيا كالو ګناهونه مُعاف

هُم دغسې د ژبې يو استعمال دا هُم دے چه دُرُود و سلام لوَلئ او د خپلو ګناهونو د بخښلو سبب جوړوئ څنګه چه په دُرِّ مُختار كښې دي:

”ثوك چه په حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندي دُرُود شريف اوليږي او هغه قبول شي نو الله تعالٰی به د هغه د اتياو (۸۰) كالو ګُناهونه وران [يعني مُعاف] کړي.“ (دُرِّ مُختار ج۲ ص۲۸٤ دار المعرفة بيروت)

## بِسْمِ الله اوکړه وئيل منع دي

بعضي خلق داسي وائي: ”بِسۡمِ الله اوکړه!“ ”راشه جي بِسۡمِ الله!“ ”ما بِسۡمِ الله اوکړه.“ سوداګران چه په ورځ کښي کومه اوله سودا کوي هغے ته عُموماً ”بَوني“ وائي خو بعضي خلق هغے ته هم ”بِسۡمِ الله“ وائي مثلاً ”زما خو نن تر اوسه بِسۡمِ الله نه ده شوي،“ د کومو جُملو مثالونه چه وړاندي کړے شو دا ټول غَلَط دي. دغه رنګ که د ډوډۍ خوړلو په وخت کښي څوك راشي نو اکثر ډوډۍ ته ناست کس هغه ته وائي راځه ته هم [ډوډۍ] اوخوره، نو عام طور داسي جواب ورکول شي، ”بِسۡمِ الله“ يا داسي وائي: ”بِسۡمِ الله اوکړئ.“ بهارِ شريعت جلد ۳ حصه ۱۶ ص ۳۷۹ کښي دي چه ”په دي موقع داسي بِسۡمِ الله وئيل علماؤ سخت منع کړي دي.“ خو داسي وئيلے شي چه، بِسۡمِ الله اووائے او خورئ. بلکه په داسي موقع دُعائيه جُمله وئيل بهتر دي مثلاً بَارَكَ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ يعني الله تعالٰی دِ مونږ او تاسو ته بَرَکت راکړي. يا په خپله مورنۍ ژبه کښي اُووائے چه، الله تعالٰی دِ تاسو ته بَرَکت درکړي.

## بِسۡمِ الله وئيل کله کُفر دے

د حرام او ناجائزه کار نه مخکښي بِسۡمِ الله بالکل، بالکل او بالکل مه وائے. په ”فتاوٰی عالمګيری“ کښي دي: **د شراب څښلو په وخت کښي او د زِنا**

کولو په وخت کښې يا د جوارئ کولو په وخت کښې بِسۡمِ الله وئيل کفر دے. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ص۲۷۳)

## ذِکۡرُ الله کول کله ګناه ده!

ياد ساتئ! په ژبه ذِکر و دُرُود اجر و ثواب هُم دے او په بعضې صورتونو کښې منع هُم، مَثَلًا د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارے مَکۡتَبَةُ الۡمَدِينه چاپ شوي کتاب ”**بَهارِ شريعت**“ جِلد اوَّل صفحه ۵۳۳ کښې دي. ګاهك [يعني خريدار] ته د سودا ښودلو په وخت کښې د تاجِر په دې غرض دُرُود شريف وئيل يا سُبۡحٰنَ الله وئيل چه د دې څيز ښه والے خريدار ته ظاهر کړي **ناجائزه** دي. هُم دغسې غټ [مشر] څوك په راتلو اُووِيني نو په دې نِيَّت **دُرُود شريف** وئيل چه خلقو ته د هغه د راتلو خبر اوشي او د هغه د تعظِيم د پاره پاخي او ځائے ورته پريږدي ناجائزه دي.

(رَدُّالۡمُحۡتَار ج۲ ص۲۸۱ دار المعرفة بيروت)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې جُزئے په وجه زه اکثر اسلامي ورونړه پوهه کووم چه زما په راتلو باندې د ”**اَللّٰه اَللّٰه**“ نعرے مه وهئ ځکه چه په دې موقع ذِکۡرُ الله نه بلکه استقبال مقصود وي.

## کِهچړا ته حليم وئيل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د **الله** تعالٰی يو صِفاتي نوم حَلِيم عَزَّوَجَلَّ هُم دے لِهٰذا د خوراك څيز ته حليم وئيل اګرچه جائز دي خو ما (يعني سګِ

مدينه عُفِيَ عَنۡهُ) ته ښه نه ښکارې. دغه غِذا ته په اُردو کښې كِهچڑا[1] هُم وائي لِهٰذا د کوشش د حده پورې زه هُم دا نوم استعمالووم، په تَذكِرَةُ الاولياء کښې دي چه حضرتِ سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه يوه ورځ يوه سره منږه په لاس کښې را واخسته او اوئې فرمائيل: "دا ډير لطيف [منږه] ده." غيبانه آواز راغے: "زمونږه نوم د منږې د پاره استعمالولو باندې تا ته حياء رانغله!" الله تعالىٰ خلوېښتو ورځو پورې خپل ياد د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د زړه نه اُو ويستلو. هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه هُم قسم اوخوړلو چه نور به کله هُم د (خپل وطن) بِسطام ميوه نه خورم. (تذكرةُالأوْلِياء ص١٣٤) تاسو اوليده! د "لطيف" يوه معنىٰ "ښه" هُم دے خو ولے چه "لطيف" د الله تعالىٰ صِفاتي نوم هُم دے ځکه حضرتِ سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ته خبردارے ورکړے شو.

## يو لاك هُمره ثواب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي که مونږه خپله ژبه صحيح استعمال کړو نو بعضې وخت په دلو دلو نيکۍ ګټلے شو. په حديثِ پاك کښې دي چه په بازار کښې د الله تعالىٰ ذِکر کوونکي د پاره به د هر

[1][چه غوښه او د چنې دال داسې ګډ وَډ وراسته پاخه کړې شي چه بالکل ليتۍ غوندې ترې جوړه شي، دې ته عوام "حليم" وائي خو حَلِيم د الله جَلَّ جَلَالُهٗ صفاتي نوم دے ځکه اميرِ اَهلِسُنَّت فرمائي چه د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د نامه د ادب په وجه دې ته "حليم" نه بلکه "كِچڑا" وئيل پکار دي. او اصل نوم ئې "لَحِيم" دے يعني د لَحم يعني غوښې نه وتلے لفظ دے]

وِيښته په بدله کښې په قيامت کښې نُور وي. (شُعَبُ الْاِيْمان لِلْبَيْهَقِي ج۱، ص۴۱۲حديث۵۶۷دار الکتب العلمية بيروت)

ياد ساتئ! تِلاوتِ قُرآن، حَمْد و ثناء، مُناجات و دُعاء، دُرُود و سلام، نعت، خُطبه، درس، د سُنَّتو ډك بيان وغيره ټول په ”ذِكْرُ الله عَزَّوَجَلَّ“ كښې شامِل دي. لِهٰذا! هر اسلامي وررور ته پكار دي چه هره ورځ كم از كم مِنَټه په بازار كښې د فَيضانِ سُنَّت درس وركوي. چه څومره وخت درس وركوي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ هغه ته به د هغه هُمره وخت په بازار كښې د ذِكْرُ الله عَزَّوَجَلَّ كولو ثواب حاصليږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حاجت پوره كولو او د مريض د پوښتنې ثواب

سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ! څومره خوش نصيبه دي هغه اسلامي وروڼړه او اسلامي خويندې چه خپلې ژبې د نيكئ په دعوت، د سُنَّتو ډك بيان او ذِكر و دُرُود كښې مشغولې ساتي. د مسلمان حاجت پوره كول ثواب دے او بيمار يا پريشانه مسلمان ته تسلِّي وركول هُم د ژبې عظيمُ الشَّان استعمال دے. چنانچه

## د عبادت عظيمُ الشَّان ثواب

د دوارو جهانو سردار، د رسولانو سالار خوږ مُحَمَّد مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ”څوك چه د خپل يو مسلمان وررور د حاجت پوره كولو د پاره

ځي، **اللّٰه** تعالیٰ په هغه باندې د **پينځه اويا زره فرښتو** په ذريعه سَورے کوي، هغه فرښتے د هغه د پاره دُعا کوي او هغه د اوزګاريدو پورې په رحمت کښې غوپے خوري او کله چه هغه د هغه کار نه اوزګار شي نو **اللّٰه** تعالیٰ د هغه د پاره د يو حج او يوے عُمرے ثواب ليکي. او چا چه د مريض تپوس اوکړو **اللّٰه** تعالیٰ به په هغه باندې د **پينځه اويا زره فرښتو** په ذريعه سَورے کوي، او کور ته د بيرته راتلو پورې به د هغه په هر قدم اوچتولو باندې د هغه د پاره يوه نيکي ليکلے شي او د هغه په هر قدم ايښودو به د هغه يوه ګناه ورانولے شي او يوه درجه به ئې اوچتولے شي، چه کله هغه د مريض سره کښيني نو رَحمت به ئې پټ کړي او خپل کور ته د بيرته راتلو پورې به په رحمت کښې پټ وي.“ (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج۳ ص۲۲۲ حديث۴۳۹۶) چه کله هُم د چا ماشوم [يا خوك پخپله] بيمار شي، خوك بے روزګاره شي يا قرضدار شي، څه حادِثه ورپيښه شي، غله يا ډاکوان ئې مال لُوټ کړي، په کاروبار کښې نُقصان اوکړي، څه څيز ترې ورك شي، غرض دا چه که په هره پريشانئ کښې اخته شي نو د هغه زړه خوشحالولو د پاره ژبه خوزول د ډير غټ ثواب کار دے چنانچه

## د جَنَّت دوه جوړے

د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چه زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خوك چه کوم يو غمژن کس ته تعزِيَّت کوي [يعني صبر او دلاسه ورکړي، دُعا ورته اوکړي] **اللّٰه** تعالیٰ به هغه ته د تقوٰی

لِباس واغوندي او د روحونو په مينځ كښې به د هغه په رُوح رَحمت فرمائي او څوك چه كوم يو مصيبت كښې اخته [كس] ته تعزيَت اوكړي الله تعالىٰ به هغه ته د جَنَّت د جوړو نه دوه داسې جوړې ور واغوندي چه د هغې قِيمت (ټوله) دُنيا هُم نه شي كيدے.“
(اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطبرانی، ج٦ ص٤٢٩ حديث٩٢٩٢ دار الفِكر بيروت)

## ژبه فائده منده هُم ده او مُضِره [يعني نقصان وركوونكې] هُم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د ژبې د صحيح استعمالولو بېشميره فائدے دي او كه هُم دا ژبه د الله تعالىٰ په نافرمانئ كښې اُوخوزيږي نو د ډير غټ آفت ذريعه ده. د مشهور صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن مسعُود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چه خوږ مَدَنـي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د اِنسان اكثرې خطاګانې د هغه په ژبه كښې وي. (شُعَبُ الْاِيْمان ج٤ ص٢٤٠ حديث ٤٩٣٣)

## هره ورځ سحر اندامونه د ژبې خوشامدې كوي

د حضرتِ سَيِّدُنا ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چه كله په انسان سحر راشي نو د ده ټول اندامونه د ژبې خوشامدې كوي، او ورته وائي: زمونږ په باره كښې د الله تعالىٰ نه اُويَريږه! ځكه چه مونږه ستا سره تړلي يو، كه ته سمه اوسيږې نو مونږه به هم سم اوسيږو، او كه ته كږه شوې نو مونږ به هم كاږه شو.“ (سُنَن ترمِذی ج٤ ص١٨٣ حديث ٢٤١٥)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د دې حديثِ پاك لاندې ليکي: (يعني اے ژبې) په کټه تاوان، راحت و آرام، تکليفونو او مصيبتونو کښې مونږه ستا سره تړلي يو، که ته خرابه وې نو په مونږه به مصيبت راشي او که ته صحيح وې نو زمونږه به عِزَّت وي. ياد ساتئ چه ژبه د زړه ترجُمانه ده، د دې ښه والے او بد والے د زړه د ښه والي او بد والي خبر ورکوي. (مِراۃ ج٦ ص٤٦٥)

## د ژبې د بے احتياطئ آفتونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي ژبه که کړه چليږي نو کله کله فسادونه جوړ شي، که په هم دې ژبه سرے خپلې مدخُوله ښځې ته طَلَاق طَلَاق طَلَاق اُووائي نو طَلاقِ مُغَلَّظه واقع شي، که په هم دې ژبه چا ته بد رد اُووائي او هغه ته غُصّه ورشي نو کله کله خبره مرګ ژوبلې ته اورسي او که په هم دې ژبه څوك يو مسلمان بے د شرعي اجازته اورټي او زړه ئې خفه کړي نو يقيناً ګنهګار او د جَهنَّم حقدار شو. د "طَبَراني شريف" په رِوايت کښې دي، د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: "چا چه (بے د شرعي وجهې نه) يو مسلمان ته تکليف ورکړو هغه ما ته تکليف راکړو او چا چه ما ته تکليف راکړو هغه الله تعالیٰ ته تکليف ورکړو. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج٢ ص٣٨٦ حديث٣٦٠٧)

# د هميشه رِضا او ناراضي

حضرتِ سَيِّدُنا بِلال بِن حارِث رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ رِوايت کوي چه د دواړو جهانو سُلطان، رَحمتِ عالَمِيان صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: کوم کس ښه خبره اوکړي د هغې د اِنتِها نه خبر نه وي د هغې په وجه د هغه د پاره د الله تعالیٰ رضا د هغه ورځې پورې اوليکلې شي چه کله به هغه د هغه سره ملاقات کوي. او يو سړے بده خبره اوکړي چه د هغې د اِنتِها نه خبر نه وي الله تعالیٰ د هغه نه خپله ناراضي د هغه ورځې پورې اوليکي چه کله به هغه د هغه سره ملاقات کوي. (مِشْکَاةُ الْمَصَابِيح ج۲ ص۱۹۳ حديث۴۸۳۳، سُنَنُ التِّرمِذِی، ج۴ ص۱۴۳ حديث۲۳۲۶)

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې ليکي: (کله کله انسان) بعضې خبره داسې بده اوکړي چه په هغې رب تعالیٰ د هميشه د پاره ناراضه شي لِهٰذا انسان ته پکار دي چه ډير په سوچ او فِکر خبره کوي. حضرتِ سَيِّدُنا عَلقَمه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به فرمائيل چه ما د ډيرو خبرو نه د بِلال اِبنِ حارِث (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ) (دا ذِکر کړے) حديث منع کړي. (مرقات) يعني زه څه وئيل غواړم چه دا حديث مخې ته راشي او زه خاموشه شم. (مِرأة، ج۶ ص۴۶۲)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** بے سوچه د خبرې کولو نتيجه بېحده خطرناکه کيدے شي او د الله تعالیٰ د هميشه هميشه **ناراضئ** باعث جوړيدے شي. يقيناً د ژبې **قُفلِ مدينه** لګولو کښې خير دے. د خاموشئ د عادت جوړولو د پاره څه نه څه خبرې **د لِيك** يا د **اِشارے** په ذريعه کول

بېــحده فائده مند دي ځکه چه خوك زياتــي خبرې کوي نو عام طور خطاګانې هُم زياتــي کوي، رازونه هُم ښکاره کوي او د غِيبَت، **چُغلۍ**، او عيب جوئې [يعني د خلقو د عيبونو لټولو] په شان ګناهونو نه هُم د داسې کس بچ کيدل ډير مُشکِل وي. بلکه د ټر ټر عادت لرونکــي کس د خُلے نه کله کله **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ **کُـفريات** هُم اُوځي!

## د زړه د سختئ انجام

**اَللّٰهُ** رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ دِ په مونږه رحم اُوفرمائي او مونږ ته دِ خپله ژبه قابو کښې د ساتلو توفيق رانصيب کړي ځکه چه دا د **ذِکرُالله** عَزَّوَجَلَّ نه غافِله شي نو په فضولو خبرو کولو کولو زړه هُم سخت کړي. د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: فُحش ګُوئي [يعني د بے حيائي خبرې کول] د زړه د سختئ نه دي او د زړه سختي په اور کښې ده. (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج۳ص٤٠٦ حديث٢٠١٦)

مشهور **مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې ليکي: يعني خوك چه د ژبې بے باکه وي او هره ښه او بده خبره په بے پرواهئ سره د خُلے نه اُوباسي نو پوهه شه چه **د ده زړه سخت دے** په ده کښې حيا نشته. سختي هغه ونه ده چه د هغے جرړه د انسان په زړه کښې ده او د هغے خاخ په دوزخ کښې دے. د داسې بے باکه انسان انجام دا وي چه هغه د **الله** و رَسُول (عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په بارګاه کښې بے ادبه شي او **کافر** شي. (مِراٰة ج٦ص٦٤١)

## ژبه ئې اوچیچله!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي زیاتي خبرې کول بېحده خطرناکې دي ځکه چه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ انسان کله کله د ډیرو فضولو خبرو کولو په وجه د کُفر کندې ته غورزیدے شي. کاش چه! مونږه د خبرې کولو نه مخکښې د خبرې تَلَلو [او د دې سوچ] عادت جوړ کړو چه مونږه څه وئیل غواړو چه په هغے کښې د آخِرت څه فائده شته او که نه؟ که [فائده پکښې] نه وي نو بیا کاش چه! د هغه خبرې کولو په ځائے هُم هغه هُمره ساعت دُرُود شریف اُووائیو ځکه چه په داسې کولو به راته د آخرت عظیمه فائده حاصله شي!." په "اَسرارُ الاولیاء رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی" کښې دي چه د حضرتِ سَیِّدُنا حاتِمِ اَصم رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د ژبې مبارکې نه یو ځل یو فُضُول خبره اُووتله، هغوئي [دومره] پښیمانه شو چه (په بے خیالئ کښې ئې) خپله ژبه په غاښونو کښې دومره زور کړه چه وینې شوه او د هغه یوے بیکاره خبرې په کَفَّاره کښې ئې د شلو کالو پورې (بے ضرورته) د چا سره خبرې اونکړې! (اَسرار الاولیاء ص۳۳ مُلَخَّصاً شبّیر برادرز مرکز الاولیاء لاهور) د الله تعالٰی دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## که د خُلے نه فُضول خبره اُوځي نو څه کول پکار دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اولیده! چه حضرتِ سَیِّدُنا حاتِمِ اَصم رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د خُلے نه د فُضُول خبرې وتلو په وجه دومره خفه شو چه خپله ژبه ئې زخمي کړه! دلته دا مسئله یاده ساتئ چه په هوش و حواس

کښې ځان ته د تکليف ورکولو په شريعت کښې اجازت نشته لِهٰذا د بزرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی د خپل ځان د زخمي کولو وغيره په واقعاتو کښې به دا تاويل کيږي چه هغوئي به په بے خودئ [يعني وَجد] کښې داسې کړي وي، ځکه چه "ہوش میں جو نہ ہو وہ کیا نہ کرے" [يعني څوک چه په هوش نه وي نو هغه څه نه کوي] بهر حال دا هُم د هغوئي برخه وه. کاش چه! مونږه صرف دومره کوو چه فُضُول خبره د خُلے نه د وتلو په صورت کښې د کَفَّارے په طور ځله الله وائيو يا صرف يو ځل دُرُود شريف اُووائيو. په داسې کولو کيدے شي چه شيطان د دې ويرې نه مونږه فُضُول خبرې ته نه راپاروي چه چرې دوئي د ذِکر و دُرُود وئيلو په وجه ما په تکليف کښې اخته نه کړي! ځکه چه په مِنهاجُ العابِدِين کښې منقول دي: د شيطان د پاره ذِکرُ الله عَزَّوَجَلَّ دومره تکليف ورکوونکے دے لکه د انسان د بدن په دِړه کښې [چه] آکِلَه [وي]. (منهاجُ الْعَابِدِين ص ٤٦ دارالكتب العلمية بيروت) آکِلَه يو داسې مرض دے چه دا د انسان غوښه او پوستکے مُتأثِّره کوي او د بدن نه غوښې پخپله رژيدل شروع شي.

## د فُضولو جُملو ١٤ مِثالونه

افسوس افسوس! نن صبا بنه صُحبتونه ډير کم دي. د بد قِسمتئ خبره ده چه ډير بنه بنکاريدو والا خلق هُم د بنو خبرو په ځائے په فُضولو خبرو کښې مشغُول وي. کاش چه! مونږه صرف د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د رضا د پاره خلقو سره مُلاقات کوو او زمونږه مُلاقات صرف د ضرورت د خبرې

د حده پورې وي. **یاد ساتئ!** ” بې فائده خبرو کښې مشغولیدل یا فائده مندو خبرو کښې د ضرورت نه زیات الفاظ شاملول حرام یا ګناه نه ده، البته د دې پریښودل ډیر بهتر دي. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج۳، ص۱٤۳ دار صادر بیروت) غیر ضروري خبرو کولو کښې ”د ګناهونو“ په خبرو کښې د اخته کیدو قوي اِمکان وي لِهٰذا په **خاموشۍ** کښې خیر دے. زمونږه په معاشره کښې نن صبا بے ضرورته داسې تپوسونه هُم کیږي چه مخامخ کس پرې شرمنده شي او که په جواب ورکولو کښې د احتیاط نه کار وانخلي نو د دروغو په ګناه کښې هُم اخته کیدے شي. بعضې وخت داسې تپوسونه ضرورتاً هُم کیږي که داسې وي نو بیا **فُضُول** نه دي. د داسې تپوسونو څه مثالونه دا دي. که [د دې خبرو] ضرورت وي نو خیر دے، او که د دې نه بغیر کار کیدے شي نو مسلمانان د شرمندګۍ یا د ګناهونو د خطرے نه اوساتئ. مَثَلًا ﴿۱﴾ وایه وروره څه کوئ! ﴿۲﴾ یارا! نن صبا لکه چه را ته دُعا نه کوے! ﴿۳﴾ ولے وروره! خفه ئې را نه که څنګه؟ ﴿٤﴾ را ته ښکاري چه مزه دِ نشته! ﴿۵﴾ دا ګاډے دِ په څو اخستے دے؟ ﴿٦﴾ د کوم کال ماډل دے؟ ﴿۷﴾ ستاسو په علاقه کښې زمکه څه بیعه ده؟ ﴿۸﴾ یاره! ډیره زیاته ګراني ده ﴿۹﴾ په فلانکي ځائے کښې موسم څنګه دے؟ ﴿۱۰﴾ اُف! دومره ګرمي! ﴿۱۱﴾ نن صبا خو ډیره زیاته یخني ده ﴿۱۲﴾ معلومه نه ده چه دا باران به اوس کله اودریږي ﴿۱۳﴾ چه لږ شان باران اوشو نو بجلي لاړه! ﴿۱٤﴾ ستاسو په ځائے کښې بجلي وه او که نه؟ وغیره وغیره. عُموماً دا ذِکر کړے شوي جُملے او دغسې نورې بیشمیره خبرې

بے ضرورته کیږي. خو بیا هُم د داسې خبرو کولو والؤ مُتَعَلِّق څه بده رائے قائمول نه دي پکار، بلکه د نیك ګُمان نه کار اخستل پکار دي چه کیدے شي کومه خبره چه فُضُول ښکاري په هغے کښې د دې وئیونکي څه مَصلَحَت وي او زه پرې نه پوهیږم. فرض کړئ که هغه تپوس یا جُمله فُضُول هُم وي نو بیا هُم وئیونکے ګنهګار نه دے.

## د حج نه راتلونکي کس نه د فُضولو سوالاتو ۱۳ مِثالونه

د سفرِ مدینه نه بیرته راغلو حاجیانو نه هُم اکثر یاران دوستان قِسم قِسم غیر ضروري تپوسونه کوي د هغے ۱۳ مِثالونه اوګورئ: ﴿۱﴾ په سفر کښې خو درته څه تکلیف نه وو پیش شوے؟ ﴿۲﴾ ګرمه خو به ډیره زیاته وه! ﴿۳﴾ ګراني خو ډیره نه وه؟ ﴿٤﴾ مکان ئې ښه درکړے وو که نه؟ ﴿٥﴾ کور دِ حرم شریف ته نزدے وو که لرې؟ ﴿٦﴾ هلته موسم څنګه وو؟ ﴿۷﴾ زیاته ګرمي خو نه وه؟ ﴿۸﴾ هره ورځ به دِ څو طوافونه کول؟ ﴿۹﴾ څو عُمرے دِ اوکړې؟ ﴿۱۰﴾ په مکّه کښې دِ زما د پاره ډیرې ډیرې دُعاګانې کړې وې که نه؟ ﴿۱۱﴾ په مِنیٰ کښې ستاسو خیمه جَمراتو ته نزدے وه که لرې؟ ﴿۱۲﴾ په مدینه کښې دِ څو ورځې تیرې کړې وې ؟ ﴿۱۳﴾ په مدینه کښې دِ زما له طرفه زما نوم اخستو سره سلام کړے وو که نه؟ د کومو تپوسونو مثالونه چه ورکړے شو هغه اګر چه ناجائزه نه دي خو بیا هُم د تپوس کولو نه مخکښې د دې په مَصلَحَت غور کوئ، که حاجت نه وي نو تپوس مه کوئ ځکه چه په دې کښې په بعضو تپوسونو

حاجي صاحِب شرمِنده کيږي په بعضو تپوسونو حيرانيږي او د بعضو تپوسونو په جواب کښې که احتياط اونکړے شو نو د دروغو په ګناه کښې اخته کيدے شي. لِهٰذا ”يوه خاموشي زر خيرونه“

## د بدو يا د ګناهونو ډکو خبرو مِثالونه

بعضې خبر لوړ خلق بے تَحقيقه د ګناهونو او تُهمتونو نه ډکو خبرو نه هُم ډډه نه کوي، د دې څلور مِثالونه واورئ: ﴿۱﴾ زمونږه ټول خاندان (يا ټول کلے) بدمذهبه شوے دے، بس يو زه پکښې پاتې شوے يم (حالانکه عام طور داسې نه وي، مشران سپين ګيري، ښځې او ماشومان ترې اکثر محفوظه وي) ﴿۲﴾ زمونږه ټول سرکاري افسران رِشوت خواره دي ﴿۳﴾ اِليکټِرک سَپلائ [يعني بِجلئ والا] ټول بدمعاشان دي (مَعَاذَ الله) ﴿٤﴾ حکومت کښې ټول غله دي وغيره.

## د غټ اختر په موقع د فُضولو تپوسونو ۱۹ مِثالونه

د غټ اختر په موقع بغير د څه غرض کيدونکو فُضُولو تپوسونو مِثالونه اوګورئ: ﴿۱﴾ هلکه ښاروے به کله اخلې؟ ﴿۲﴾ نن صبا خو به منډئ تيزه شوي وي ! ﴿۳﴾ وروره! غوا دِ په څو راوسته؟ ﴿٤﴾ هلکه غوا دِ ښه مزيداره ده! ﴿۵﴾ په غابښو څو ده؟ ﴿٦﴾ وهل خو نه کوي؟ ﴿۷﴾ پيدل دِ راوسته که په سوزوکي کښې؟ ﴿۸﴾ سوزوکي والا څومره کرايه واخسته؟ ﴿۹﴾ په څويمه ورځ به ئې حلالوئ؟ ﴿۱۰﴾ قصاب په وخت راغلے وو که نه؟ ﴿۱۱﴾ قصاب پرې چاړه راښکله بيا لاړو ډير ساعت

پس راغے ﴿۱۲﴾ آؤ ياره! قصابان دغسې ګيرول کوي ﴿۱۳﴾ د فلانکي غوا د قصاب نه خلاصه شوه او اوتښتيدله، ډيره مزه ئې اوکړه! ﴿۱٤﴾ آؤ يار! قصاب نوے [يعني کچه] وو! (په دې جُمله کښې د غِيبت، تُهمت، زړه ازارولو، بدګُمانئ او بد اَلقابئ وغيره ګناهونو بدبوئي ده. البته که هغه قصاب رښتيا کچه وو او چا ته ئې چه خبره اوکړه [د آئنده د پاره] د هغه نه د بچ کولو مقصد وي نو بيا په دې جُمله کښې باك نشته) ﴿۱۵﴾ ستاسو چيلے په غاښو خو دے؟ ﴿۱٦﴾ په څو شوے دے؟ ﴿۱۷﴾ اوهو! دا خو ډير ګران شوے دے ﴿۱۸﴾ ګرځې راګرځې که نه ﴿۱۹﴾ خومره حلالے دِ اوکړې؟ وغيره وغيره.

## په فون کيدو والا فُضُولو خبرو پينځه مِثالونه

په فون باندې هُم اکثر د غير ضروري تپوسونو ترکيبونه کيږي، پينځه مِثالونه دا دي: ﴿۱﴾ څه کوے؟ ﴿۲﴾ چرته ئې؟ ﴿۳﴾ چه ګاډي ته فون راشي نو فون کوونکے تپوس کوي، څوك څوك درسره دي؟ ﴿٤﴾ اوس کوم ځائے کښې روان ئې؟ ﴿۵﴾ کوم ځائے ته اورسيدې؟ وغيره. خو که کوم يو تپوس ضرورتاً اوکړے شي هغے ته **فُضُول** نه وائي خو بعضې تپوسونه سړے شرمنده کوي او په دروغو ئې **مجبوره** کولے شي مَثَلًا کيدے شي چه د تپوس نمبر ۱، ۳ جواب هغه صحيح ورنکړے شي ځکه چه هغه نه غواړي چه څوك دِ خبر شي چه زه څه کووم يا چرته يم يا د هغه سره څوك څوك دي. بس صرف د کار خبره کولو کښې او هغه هُم د ضرورت مطابق کولو کښې د دواړو جهانو خير دے.

## په دروغو د مجبوره کولو والا تپوسونو ۱٤ مِثالونه

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! بعضې وخت خلق داسې تپوسونه کوي چه په جواب ورکولو کښې د بے احتیاطئ او لِحاظ په وجه د بنده د خُلے نه دروغ وتلے شي اګرچه تپوس کوونکے ګنهګار نه دے خو بیا هُم مسلمانان په ګناه کښې د اخته کیدو نه د بچ کولو د پاره داسې تپوسونه کولو نه ډېره کول مناسب دي. د داسې تپوسونو ۱٤ مثالونه دا دي: ﴿۱﴾ زمونږه کور پیدا کولو کښې درته څه پریشاني خو پیښه نه شوه؟ ﴿۲﴾ زمونږه د کور طعام دِ خوښ شو که نه؟ ﴿۳﴾ زما د لاس چائے څنګه وو؟ ﴿٤﴾ زمونږ کور دِ خوښ شو؟ ﴿۵﴾ ما ته دُعا کوے که نه؟ ﴿٦﴾ ما چه اوس کوم بیان اوکړو تاسو ته څنګه ښکاره شو؟ ﴿۷﴾ ما چه نعت شریف اُووئیلو هغے کښې درته زما آواز څنګه ښکاره شو؟ ﴿۸﴾ زما خبره خو درباندې بده اُو نه لګیده؟ ﴿۹﴾ زما په راتلو خو تاسو ته تکلیف اُو نه رسیدو؟ ﴿۱۰﴾ زما په وجه تاسو تنګ خو نه شوئ؟ ﴿۱۱﴾ زما په راتلو ستاسو په خبرو کښې څه خلل خو رانغے؟ ﴿۱۲﴾ تاسو زما نه خفه خو نه ئې؟ ﴿۱۳﴾ تاسو زما نه خوشحاله ئې که نه؟ ﴿۱٤﴾ زما په باره کښې ستا زړه صفا دے که نه؟ وغیره.

## د ټولو نه خطرناك اَبُو الفُضُول

بعضې خلق خو ډېر زیات عجیبه وي، په خبره خبره فُضُول داسې تائید غواړي: ﴿۱﴾ څه پوهه شوې؟ ﴿۲﴾ زما د خبرې په مطلب پوهه

شوې که نه؟ (البته ضرورتاً د شاګردانو یا ماتحتو نه د اُستاذ یا بزرګانو وغیره تپوس کول کله فائده مند هُم وي چه که څوك نه وي پوهه شوے چه پوهه ئې کړي، په داسې موقع که نه وي پوهه شوے نو هسې د دروغو آو آو کول نه دي پکار) ﴿۳﴾ "ولے وروره! صحیح ده کنه!" ﴿٤﴾ " زه غلط خو نه وائم کنه!" ﴿۵﴾ "ستاسو څه خیال دے؟" اوس که خبره هر څومره د نه منلو وي خو د لحاظ په وجه د هغه خبرې ته د صحیح وئیلو په ګناه کښې بنده اخته کیږي. د داسې خبر لوڅو خلقو د اصلاح کولو هِمَّت که نه لرئ نو بیا ترې لرې لرې اوسیدو کښې خیر دے هسې نه چه د دوئي د ګناهونو خبرو ته "ښه، ښه" وئیل مو چرې جَهنَّم ته غوزار نه کړي! تر دے پورې لیدلي شوي دي چه داسې بکواس کوونکي خلق کله کله د ګُمراهئ خبرې بلکه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ کُفریات اُووائي او د خپل عادت مطابق د تائید حاصلولو د پاره وائي: "ولے جي صحیح وایم که نه؟" او په مخامخ کس هُم آو اُووائي او بعضې وخت د هغه ایمان هُم برباد کړي. ځکه چه د هوش او حواس سره د کُفر تائید کول هُم کُفر دے. اَلعِیاذُبِاللهِ عَزَّوَجَلَّ

اے کاش! ضرورت کے سوا کچھ بھی نہ بولوں
اللہ زَباں کا ہو عطا قُفلِ مدینہ

اے کاش! چه ضرورت نه سِوا هیڅ هُم نه وایم
الله د ژبې راکړې را تـه قُـفـلِ مـدینـه

# د فُضُول خبرې تعريف

خبره کولو کښې چه کوم ځائے په يو لفظ کار کيدے شي او د هغے سره يو بل لفظ شامل کړے شي نو دا بل لفظ " فُضُول " دے. چنانچه حُجَّةُ الاِسلام اِمام ابو حامِد محمّد بن محمّد غزالي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم کښې فرمائي: که په يوه کَلِمه (يعني يو لفظ) د هغه (يعني خبره کوونکي) مقصد حاصليدے شي او هغه دوه کَلِمے (يعني دوه الفاظ) استعمال کړي نو دويمه کَلِمه به فُضُول وي. يعني د حاجت نه به زياته وي او کوم لفظ چه د حاجت نه زيات دے هغه مذموم [يعني د غندنې وړ] دے. (اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم ج٣ ص١٤١) که په يو لفظ مقصود نه حاصليږي نو په داسې صورت کښې دوه يا د ضرورت مطابق چه څومره الفاظ هُم اُووئيل شي هغه به فُضُول نه وي. بهر حال فُضُول خبره به هغه کلام ته وائي کومه چه بے فائده وي. د ضرورت، حاجت يا فائدے په دې درې واړو درجو کښې چه د کومې "درجے" مطابق کومه خبره اوکړے شي هغه فُضُول نه وي مَثَلًا په شعرونو، بيان يا په مضمون کښې د تَحسينِ کلام (يعني په خبره کښې د ښائست پيدا کولو) د پاره د ضرورت مطابق مُقَفّٰی و مَسَجَّع (يعني قافيه لرونکي) الفاظ استعماليږي، دے ته هُم فُضُول نه وائي. کله کله د مخاطَب (يعني چا ته چه خبره کيږي د هغه) د پوهه کيدو د صلاحِيَّت مطابق هُم ضرورتاً د الفاظو د کمي زياتي صورت جوړيږي، دا هُم فُضُول نه دي. د تَفهِيم يعني پوهه کولو [او پوهه کيدلو] په اِعتِبار د خلقو درې قِسمه کيدے شي ﴿۱﴾ ډير زيات هوښيار ﴿۲﴾ مُتَوَسِّط

يعني د درميانه درجے هوښيار ﴿۳﴾ **غَبـي** يعني كمزورو دِماغو والا. څوك چه ''ډير زيات هوښيار'' وي هغه بعضې وخت صرف په يو لفظ اوريدو د خبرې په مطلب پوهه شي او د درميانه درجے هوښيار د وضاحت نه بغير پوهه كيدل مُشكِل وي او پاتې شو كمزورو دِماغو والا، هغه كله په لس لس ځله پوهه كولو هُم نه پوهيږي. د مُخاطَبِينو د دې تقسيم مطابق دا خبره ياده ساتئ چه كه څوك په يو لفظ اوريدو په خبره پوهه شو هغه ته كه هُم هغه خبره پوهه كولو د پاره دويم لفظ اُووئيل شو نو هغه دويم لفظ به **فُضول** وي، هُم دغسې د درميانه درجے هوښيار كه په دولسو الفاظو كښې په خبره پوهه شي نو د هغه د پوهه كيدو باوجود د هُم هغه خبرې ديارلسم يا د دې نه زيات چه كوم لفظ بے د څه مَصلحَته اُووئيل شي هغه به **فُضول** وي او پاتې شو كمزورو دِماغو والا نو كه د سلو الفاظو نه بغير په هغه خبره نه پوهيږي نو ولے چه دا سل الفاظ هُم د ضرورت په وجه اُووئيل شو ځكه **فُضُول** وينا نه شوه. بهرحال په څومره الفاظو كښې چه مقصد حاصليږي د هغے نه كه يو لفظ هُم زيات اُووئيل شو نو هغه به **فُضُول** وي. او هغه خبرې چه جائز خو دي مگر **بے فائده** دي د هغے ''يو لفظ'' وئيل به هُم **فُضُول** وي او كه هغه خبره ناجائزه وي نو د هغے ''يو لفظ'' وئيل به هُم **ناجائزه** او **گناه** وي.

## څوك چه په الله او آخرت اِيمان لري

د دې تفصيل په اوريدو كيدے شي چه د چا په زړه كښې دا خبره راشي چه د **فُضُول** خبرې نه بچ كيدل ډير مشكِل دي. هِمَّت مه بيلئ، كوشش

جاري ساتئ، د ژبې د قُفلِ مدينه لګولو (يعني د خاموشئ) د پاره که کيدے شي نو څه نه څه په اِشاره يا د ليك په ذريعه د خبرې کولو ترکيب جوړوئ، چه نِيَّت صفا وي نو منزِل به آسان شي. مقُوله ده: اَلسَّعْیُ مِنِّیْ وَالْاِتْمَامُ مِنَ اللّٰه يعني کوشش کول زما کار دے او پوره کوونکے الله تعالٰی دے. د خاموشئ عادت جوړلو د پاره د بُخاري شريف دا حديثِ پاك په يادو زده کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډيره فائده به کيږي. هغه حديثِ پاك دا دے: د مدينے تاجدار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ''څوك چه په الله تعالٰی او په آخِرت ايمان لري هغه ته پکار دي چه د نيکئ [يعني د خير] خبره اوکړي يا خاموشه اوسي.'' (صَحِيْحُ الْبُخَارِی ج٤، ص١٠٥ حديث ٦٠١٨ دارالكتب العلمية بيروت)

## عجيبه فُضُول ګو

بعضې خلق ځپله خو فُضُول خبرې کوي کوي بلکه نور هُم دوه ځله په خبره کولو مجبوروي! غور اوکړئ چرې بے اِراده دا غلطي تاسو نه خو نه کيږي! دوه ځله خبره کولو باندې د مجبوره کولو صُورت دا دے: مَثَلًا زيد څه خبره کوي نو بکر [په خبره] د پوهه کيدو باوجود د حيرانيدو او تپوس کولو په انداز کښې سر پورته کړي او [داسې] اِشاره اوکړي [لکه په خبره چه نه وي پوهه شوے] او اکثر ئې د خُلے نه د تپوس په انداز کښې ''هون''؟ جی؟ (يا څه؟) اُوځي او د دې په جواب کښې زَيد فُضُول خپله خبره کولو باندې بيا مجبوره شي. ولے چه سګِ مدينه عُفِیَ عَنْهُ ته د بعضې خلقو د دې عادت تجرِبه ده ځکه د مُخاطَب د ''هيں، هون'' په کولو خپله خبره د دويم ځل کولو په ځائے خاموشي اختيار کړي او عام طور نتيجه هُم دا وي چه

مُخاطَب (يعني د چا سره مې چه خبره کړې وې هغه) په خبره پوهه شوے وي! د فُضولو عادتونو ختمولو د پاره به ډېر کوشش کول غواړي، صرف په يو بيان اوريدو (يا ليك لوستلو) كه داسې عادت اُوځي، د دې اُمِيد د نِشت برابر دے. تاسو ښه غور او فِکر اوکړئ او خپل ځان ذهني طور تيار کړئ چه د چا خبره واورم نو يو دم به "هيں؟" "څه" وغيره نه وايم او كه بيا هُم په هير کښې داسې اوکړئ نو خپل اِحتِساب اوکړئ.

## د خبرو جائزه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بزرګانِ دين د خبرو اترو کولو احتياطونه واورئ: چنانچه په "مِنهاجُ الْعَابِدِين" کښې دي: يو ځل د حضرتِ سَيِّدُنا فُضَيل بن عِياض رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه او سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه مُلاقات اوشو. هغوئي د يو بل سره خبرې اوکړې او دواړه په ژړا شو بيا سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اُوفرمائيل: اے ابو علي (دا د حضرتِ سَيِّدُنا فُضَيل بن عِياض رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه کُنيَت وو) "زه د نن دے صُحبت [په وجه] د ډير ثواب اُمِيد لرم." حضرتِ سَيِّدُنا فُضَيل بن عِياض رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اُوفرمائيل: "زه د دې نني صُحبت نه ډير په ويره کښې يم." سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اُوفرمائيل: ولے؟ سَيِّدُنا فُضَيل بن عِياض رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه جواب ورکړو: آيا مونږه دواړو خپلې خبرې نه ښکلې کولې؟ آيا مونږ دواړه په تَکَلُّف [يعني خبرې ښائسته کولو] کښې اخته نه وو؟ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه دا واوريدل نو په ژړا شو. (منهاجُ الْعَابِدِين ص ٤٤)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د فِکر مُقام دے. د هغه نيکو بندګانو ملاقات به د رِضائے اِلٰهي جَلَّ جَلَالُہٗ د پاره وو او د هغوئي خبرې اترې به خالِص اسلامي خبرې وې. خو د هغوئي د الله تعالیٰ نه ويره لرل اوګورئ! چه دواړه اولياءِ کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د دې ويرې نه ژاړي چه زمونږه په خبرو اترو چرې د الله تعالیٰ نافرماني خو اونشوه. چرې مونږه **فُضُول** يا بے وجهې جُملے خو اُو نه وئيلـې! د دې نه دِ هغه خلق درسِ عِبرت حاصِل کړي ځوك چه د خپلو معلوماتو ښودلو د پاره د رياکارئ په طور په اُردو [پښتو يا بله قومي يا مورنئ ژبه] کښې د خبرو کولو په دوران کښې د عربئ، فارسئ او انګريزئ مشکل الفاظ، محاورے او هَم قافيه جُملے کثرت سره استعمالوي.

د **سَيِّدُ الْمُرْسَلِين، خَاتَمُ النَّبِيِّيْن، جنابِ رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: "ځوك چه د دې مقصد د پاره د خبرې اړول راړول زده کړي چه د دې په ذريعه د سړو يا خلقو زړونه راګير کړي نو الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی به په ورځ د قيامت نه د هغه فرض قبول کړي نه نفل."

(سُنَنُ اَبی داوٗد ج٤، ص٣٩١ حديث٥٠٠٦، دارحيا التراث العربی بيروت)

**مُحَقِّق عَلَی الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِين،** حضرت علّامه **شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: **صَرفُ الْكَلام** (يعني د خبرو د اړولو راړولو) نه مُراد دا دے چه په تَحسِينِ کلام کښې (يعني په خبرو کښې د ښائست پيدا کولو د پاره) دروغ، د دروغو وينا د رياکارئ په طور

اوکړے شي. او اِلتِباس و اِبهام (يعني د يو شان والي شُبه) پيدا کولو د پاره پکښې رد و بدل اوکړے شي. (اَشِعَّةُ اللّمعات، ج۴، ص۶۶)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کور ته د تلو راتلو مدني ګلونه

❁ پيش کړے شوے هر هر مَدَني ګل د رَسولِ مَقبول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت مه ګڼړئ، په دې کښې د سنّتو نه علاوه د بزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى نه منقول مَدَني

ګلونه هم شامل دي. دا مسئله ياده ساتئ چه تر څو يقيني طور معلوم نه وي تر هغې پورې يو عمل ته هم "سنّتِ رسول" نه شي وئيلې.

## ﴿۱﴾ چه کله د کور نه بهر اُوځئ نو دا دُعا لوَلئ:

بِسۡمِ اللهِ تَوَكَّلۡتُ عَلَى اللهِ لَا حَوۡلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ

(ترجمه: د الله تعالىٰ په نوم [د کور نه اُوځم]، ما په الله تعالىٰ توَکُّل اوکړو، د الله نه سِوا نه (د ګناهونو نه د بچ کيدو) قُوَّت شته او نه (د نيکو کولو) طاقت شته.

(سُنَنِ ابی داؤد ج٤، ص٤٢٠، حديث٥٠٩٥)

اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د دې دُعا د لوستلو په بَرَکت به د هدايت په لار اوسيږئ، د آفتونو نه به مو حفاظت کيږي او د الله تعالىٰ مدد به درسره شامل وي.

## ﴿۲﴾ کور ته د ننوتلو دُعا:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَسۡئَلُكَ خَيۡرَ الۡمَوۡلَجِ وَخَيۡرَ الۡمَخۡرَجِ
بِسۡمِ اللهِ وَلَجۡنَا وَبِسۡمِ اللهِ خَرَجۡنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلۡنَا

(ترجمه: اے الله جَلَّ جَلَالُهٗ زه ستا نه د داخليدو او د وَتلو خير غواړم، د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په نامه مونږ (کور ته) دننه راغلو او د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په نامه بهر اووَتلو او مونږ په خپل رب الله جَلَّ جَلَالُهٗ توَکُّل اوکړو) د دُعا لوستلو نه پس دِ د کور کسانو ته سلام اوکړي بيا دِ په بارګاهِ رِسالت کښې سلام عرض کړي، د هغې نه پس دِ سُورَةُ الۡاِخۡلَاص شريف اولولي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ په روزئ کښې به بَرَکت کيږي او په کور کښې به جګړې نه کيږي. (سُنَنُ اَبی داؤد ج٤ ص٤٢١ حديث٥٠٩٦)

﴿۳﴾ کور ته چه ځئ راځئ نو محارِم او محرِماتو (مثلاً مور او پلار، خویندو وروڼو او بال بچو وغیره) ته سلام کوئ.

﴿٤﴾ د اللهتعالیٰ د نوم اخستو نه بغیر مَثَلًا د **بِسۡمِ الله** وئیلو نه بغیر چه څوك كور ته داخل شي شيطان هُم د هغه سره داخل شي.

﴿٥﴾ که داسې مکان (اکثرکه خپل تش کور) ته داخليږئ چه په هغے کښې هيڅ څوك هُم نه وي نو داسې اُووائے: اَلسَّلَامُ عَلَيۡنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيۡنَ (يعني په مونږه او د الله تعالیٰ په نيکو بندګانو باندې سلام) فرښتے به د دې سلام جواب ورکوي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۹، ص۶۸۲)

يا داسې وائي: اَلسَّلَامُ عَلَيۡكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ (يعني يا نبي په تاسو دِ سلام وي) ځکه چه د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رُوحِ مبارك د مسلمانانو په کورونو کښې تشريف فرما وي. (شرح الشفاء للقاری ج۲ ص۱۱۸)

﴿٦﴾ چه کله د چا کور ته ننوتل غواړئ نو داسې وائي: اَلسَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ آيا زه دننه درتلے شم؟

﴿٧﴾ که د داخليدو اجازت درنکړے شي نو په خوشحالئ بيرته اوګرځئ، کيدے شي چه د څه مجبورئ په وجه کور والؤ اجازت نه وي درکړے.

﴿٨﴾ چه کله څوك ستاسو د کور دروازه اوډبوي نو سُنَّت دا دي چه تپوس اوکړئ: څوك ئې؟ بهر راغلي کس ته پکار دي چه خپل نوم اوښائي: مَثَلًا اووائي چه: "محمد اِلياس" د نوم ښودلو په ځائے په دې موقع "مدينه" يا "زه يم!" يا "دروازه برسيره کړه" وغيره وئيل سُنَّت نه دي.

﴿۹﴾په جواب کښې نوم ښودلو نه پس دروازے نه ډېر ته اودرېږئ، چه دروازه برسېره کېدو سره مو په کور کښې دننه نظر نه پرېوځي.

﴿۱۰﴾د چا کور ته دننه کتل منع دي. د بعضې خلقو کور ته مخامخ لاندې طرف ته د نورو خلقو کورونه وي لِهٰذا چه [ضرورتاً] کرکئ وغیره کښې ګورئ نو د دې خبرې خیال ساتئ چه د هغوئي په کورونو کښې مو نظر نه پرېوځي.

﴿۱۱﴾چا کره چه لاړ شئ نو د هغه ځائے په انتظاماتو بے ځایه اعتراض مه کوئ، په دې د هغوئي زړه ازارېدے شي.

﴿۱۲﴾چه بیرته ځئ نو د کوربه د پاره دُعا هُم اوکړئ او د هغوئي شُکریه هُم ادا کړئ او سلام هُم اوکړئ او که کېدے شي نو د سُنّتو ډکه رساله وغیره هُم په تُحفه کښې ورکړئ.

د سُنّتو د تربِیَّت یوه بهترینه ذریعه **دعوتِ اسلامي** مَدَني قافِلو کښې عاشقانِ رَسُول سره د سُنّتو ډك سفر کول هُم دي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیّتونو سره توله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com